مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲/۱۰/۰۶

# د کولالانو لوښي

ځیني اصطلاحات، مکالمي او لفظونه په خپل وخت کي ډېر ساده، روان او عام فهمه وي؛ خو چي وخت او شرایط بدل شي؛ نو پوهېدل پرې هم سخت شي.

رحمان بابا وایي:

**د مات لوښي اواز کله ثابت خېژي؟**
**د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شي**

ښه؛
اوسنی ښاري نسل چي د پلاسکو، ښیښه یي او چیني لوښو له کاروني سره بلد دی او د خټینو لوښو د استعمال دور، تېر شوی دی؛ نو د دي بیت مانا به ورته سخته شي.

دوی شاید حیران شي چي د مات لوښي یي له ثابت اواز سره څه؟

راځئ، لږ یي پس منظر تشریح کړو:

پخوا به کولالانو له خټو د پخلنځي لوښي جوړول. لکه کټو/کټوی، کاسي، ګړي، چاټی، کوزې، ګیلاسونه ...

تر ډېره به پخلی په خټین لوښي(کټو) کي کېده.

چي کله به چا دا شیان اخیستل؛ نو د دي لپاره چي معلوم کړي مات خو نه دی، یا پټ درز خو نلري؛ نو په ګوتو به یي داسي واهه لکه د هندواني خامه او پخه چي معلوموي.

که صاف غږ(ټنګ) به یي وکړ، نو دا به روغ و؛ خو که ډب او خپ غږ به تري راووت نو بیا به یي کوم درز درلود او مات به و.

نو رحمان بابا وایي لکه څنګه چي مات او درزي لوښي له خپل غږه معلومېږي؛ دغسي د انسان کردار، ضمیر، شخصیت هم د هغه له غږ (خبرو) څرګندیږي.

همدارنګه عمر خیام ویلي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**"دی کوزه‌گری بدیدم اندر بازار**
**بر پاره گلی لگد همی زد بسیار**

**وآن گل به زبان حال با او می‌گفت**
**من همچو تو بوده‌ام مرا نیکودار"**

د بیت تشریح:

کولال چې د لوښو جوړولو لپاره خته تیاروي؛ نو ډېره يې په لغتو وهي چې ښه پخه شي.
انسان خاورې کېږي او د بدن اجزا يې د خاورو برخه ګرځي.

نو،
عمر خیام وايي چې بازار کې يې کولال ولیده چې خته يې په لغتو وهله. هغې ختې ورته د حال په ژبه وويل چې لږ ګوزاره کوه، مه مې وهه . زه هم يو وخت تا غوندې انسان وم او بيا خاوره شوم.
دا ته چې يې په لغتو وهې دا زما خاوره شوی بدن دی!




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ